تل به زما د امت يوه ډله برلاسي وي، تر دې چې د الله امر راشي، او دوی به همداسې برلاسي وي

له مغيره بن شعبة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «تل به زما د امت يوه ډله برلاسي وي، تر دې چې د الله امر راشي، او دوی به همداسې برلاسي وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکړی چې زما د امت يوه ډله به تل پر خلکو برلاسي وي، پر خپلو مخالفينو به غالبه وي، تر دې چې د الله امر راشي – يعنې د دوی ارواح الله تعالی واخلي – د دنيا د پای پر مهال، مخکې له دې چې قيامت راشي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65879